# الجن

**مکی سورة دی ۲۸ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلۡ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسۡتَمَعَ نَفَرٞ مِّنَ ٱلۡجِنِّ فَقَالُوٓاْ إِنَّا سَمِعۡنَا قُرۡءَانًا عَجَبٗا ﴿١﴾

**( ای پیغمبره!) ووایه: ماته وحي شوې چې د پیریانو یوې ډلې زما د قرأت په اوریدو سره وویل: بې له شکه چې مونږ( د فصاحت، بلاغت او نصایحو او موعظو نه ډک) یو عجب او حیرانوونکی قرآن واورید.**

يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلرُّشۡدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦۖ وَلَن نُّشۡرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدٗا ﴿٢﴾

**چې د رشد( یعنی په الهی معرفت د ایمان راوړلو او دنیوی او اخروی نیکمرغۍ په لور) لار ښوونه کوی، نو په هغه مو ایمان راوړ او هیڅکله به له خپل رب سره بل څوک( په ربوبیت کې) شریک و نه ګڼو.**

وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةٗ وَلَا وَلَدٗا ﴿٣﴾

**( او په دې حقایقو اقرار او اعتراف کوو چې:) لوړ او باعظمته دی زمونږ د رب شان او شوکت.( هغه ذات چې) نه یې د ځان لپاره ښځه غوره کړې او نه اولاد.**

وَأَنَّهُۥ كَانَ يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى ٱللَّهِ شَطَطٗا ﴿٤﴾

**او دا( اقرار هم کوو) چې زمونږ ځینې ناپوهان د الله تعالی په باب ناروا او له انصاف نه لیرې خبرې کوی( او ښځه او اولاد ورته منسوبوی).**

وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن تَقُولَ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا ﴿٥﴾

**او مونږ ګومان کاوه چې انسان او پیری به هیڅکله هم په الله تعالی د درواغو تومت و نه تړی.**

وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٞ مِّنَ ٱلۡإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٖ مِّنَ ٱلۡجِنِّ فَزَادُوهُمۡ رَهَقٗا ﴿٦﴾

**او دا چې ځینو انسانانو به پیریانو ته پناه وروړه، او په دغه عمل سره یې د پیریانو سرکشی او ګمراهی نوره هم زیاتوله.**

وَأَنَّهُمۡ ظَنُّواْ كَمَا ظَنَنتُمۡ أَن لَّن يَبۡعَثَ ٱللَّهُ أَحَدٗا ﴿٧﴾

او( ای پیریانو!) انسانانو به هم ستاسو په شان دا ګومان کاوه چې نه به الله تعالی کوم( مړی راژوندی کړی) او نه به کوم( آخر زمان) پیغمبر را ولیږی( خو د مبارک قرآن نه ثابته شوه چې الله تعالی یو عظیم الشأن رسول رالیږلی چې بشری پرګنو ته د الله تعالی په وحدانیت او په بعث بعدالموت د ایمان توصیه کوی).

وَأَنَّا لَمَسۡنَا ٱلسَّمَآءَ فَوَجَدۡنَٰهَا مُلِئَتۡ حَرَسٗا شَدِيدٗا وَشُهُبٗا ٨

او کله چې مونږ( د خبر اخستلو لپاره) آسمان ته ورسیدو، نو ومو لیدل چې په ډیرو پیاوړو ساتونکو او سوزوونکو ستورو سمبال و.

وَأَنَّا كُنَّا نَقۡعُدُ مِنۡهَا مَقَٰعِدَ لِلسَّمۡعِۖ فَمَن يَسۡتَمِعِ ٱلۡأٓنَ يَجِدۡ لَهُۥ شِهَابٗا
رَّصَدٗا ٩

او مونږ به ( د ملکوتی اطلاعاتو او د پرښتو د خبرو) د اوریدو لپاره په ځارځای کې کښیناستو، خو اوس که څوک د استراق سمع هڅه وکړی نو په سوزوونکو ستورو ویشتل کیږی.

وَأَنَّا لَا نَدۡرِيٓ أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ أَرَادَ بِهِمۡ رَبُّهُمۡ رَشَدٗا ١٠

او مونږ نه پوهیږو چې د ځمکې د اوسیدونکو لپاره کوم شر او مصیبت لیکل شوی او که رب یې د هغوی لپاره د هدایت اراده لری.

وَأَنَّا مِنَّا ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَۖ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدٗا ١١

او زمونږ ځینې کسان نیک او صالح دی او ځینې مو فاسد او بې لارې دی، او مونږ په بیلابیلو لارو (مذاهبو او عقایدو) ویشل شوی یو.

وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن نُّعۡجِزَ ٱللَّهَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَن نُّعۡجِزَهُۥ هَرَبٗا ١٢

او مونږ باور لرو چې( که قرآن و نه منو) هیڅکله هم په ځمکه کې الله تعالی ته کوم زیان نشو اړولی او نه د هغه ( د قدرت او حاکمیت له حدودو) تښتیدی شو.

وَأَنَّا لَمَّا سَمِعۡنَا ٱلۡهُدَىٰٓ ءَامَنَّا بِهِۦۖ فَمَن يُؤۡمِنۢ بِرَبِّهِۦ فَلَا يَخَافُ بَخۡسٗا
وَلَا رَهَقٗا ١٣

او مونږ د هدایت کلام واورید او په هغه مو ایمان راوړ، او څوک چې پخپل رب ایمان راوړی، له هر ډول نقصان، ظلم( ذلت او رسوایی) نه به مأمون او مصئون وی.

وَأَنَّا مِنَّا ٱلْمُسْلِمُونَ وَمِنَّا ٱلْقَـٰسِطُونَ ۖ فَمَنْ أَسْلَمَ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ تَحَرَّوْا۟ رَشَدًا ﴿١٤﴾

او زمونږ ځيني ډلې( الهی احکامو او فرمانونو ته غاړه ايښودونکی) مسلمانان، او ځيني نور بيا( له حق نه) منحرف او ظالمان دی. نو هغه کسان چې د الهی احکامو تابع دی، د حقيقت او هدايت لاره يې خوښه کړې ده.

وَأَمَّا ٱلْقَـٰسِطُونَ فَكَانُوا۟ لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿١٥﴾

خو بې لارې شوی او ظالمان پکې د جهنم خس او خاشاک دی.

وَأَلَّوِ ٱسْتَقَـٰمُوا۟ عَلَى ٱلطَّرِيقَةِ لَأَسْقَيْنَـٰهُم مَّآءً غَدَقًا ﴿١٦﴾

( ای پيغمبره ووايه: ماته دا وحې هم شوې چې: که انسانان او جنيات او هم د مکې قريش د اسلام) په لاره ثابت قدم پاتې شی، په ډيرو اوبو به يې ماړه کړو( روزی به يې پراخه کړو او هر ډول نيکمرغی او هوسايی به يې په برخه کړو).

لِّنَفْتِنَهُمْ فِيهِ ۚ وَمَن يُعْرِضْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِۦ يَسْلُكْهُ عَذَابًا صَعَدًا ﴿١٧﴾

ترڅو يې د نعمتونو په ډيروالی وازمايو، او څوک چې د خپل رب له ذکر نه مخ وګرځوی، په سخت عذاب به اخته شی.

وَأَنَّ ٱلْمَسَـٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا۟ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدًا ﴿١٨﴾

او( ووايه: دا هم راته وحې شوې چې ټوله ځمکه په تيره بيا عبادتځايونه او) جوماتونه د الله تعالی د عبادت لپاره ځانګړی دی، نو د الله تعالی نه غير پکې د بل هيڅا عبادت مه کوی.

وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبْدُ ٱللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا۟ يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴿١٩﴾

او (راته وحې شوې) کله چې د الله تعالی بنده( محمد صلی الله عليه وسلم په بطن نخله کې) د عبادت لپاره پورته شو، نو نږدې وه چې(انسی او جنی منکران) پرې راوغورزی( او اسلامی دعوت بې اثره او تخريب او الهی نور خاموشه کړی خو الله تعالی د خپل رسول مرسته کوی او خپل نور هرومرو د اکمال او اتمام درجې ته رسوی).

قُلْ إِنَّمَآ أَدْعُوا۟ رَبِّى وَلَآ أُشْرِكُ بِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٠﴾

( ای پيغمبره!) ووايه زه يوازې د خپل رب عبادت کوم او له هغه سره( په ربوبيت کې) هيڅوک نه برابروم( وپوهيږی چې د اسلامی دعوت د ناکامولو او تخريبولو لپاره به ستاسو ټولې دسيسې شنډې شی).

قُلْ إِنِّي لَآ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾

ووايه: زه تاسو ته د زيان او ګټې رسولو اختيار نه لرم.

قُلْ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٌ وَلَنْ أَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلْتَحَدًا ﴿٢٢﴾

ووايه:( كه زه د الله تعالى نافرمانى وكړم) هيڅوک مې هم د الله تعالى له عذابه نشى ژغورلى او نه له هغه نه غير، بل پناه ځاى پيدا كولى شم.

إِلَّا بَلَٰغًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِسَٰلَٰتِهِۦ ۚ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ

خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ﴿٢٣﴾

زما وظيفه يوازې د الله تعالى د احكامو ابلاغول دى، او څوک چې د الله تعالى او د هغه د رسول له احكامو سرغړونه كوى، جهنم به يې ابدى كور وى.

حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوْا۟ مَا يُوعَدُونَ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ أَضْعَفُ نَاصِرًا وَأَقَلُّ

عَدَدًا ﴿٢٤﴾

( كافران تل تاسو ته د كمزورو او بې وسو په سترګه ګورى) تر هغه چې موعود( عذاب) په غړيدلو سترګو وګورى، بيا به پوه شى چې د چا ملاتړ كوونكى كمزورى او د افرادو شمير يې كم دى.

قُلْ إِنْ أَدْرِىٓ أَقَرِيبٌ مَّا تُوعَدُونَ أَمْ يَجْعَلُ لَهُۥ رَبِّىٓ أَمَدًا ﴿٢٥﴾

ووايه: نه پوهيږم چې تاسو ته  دركړى شوې د (قيامت) وعده نږدې ده او كه زما رب ورته اوږده موده ټاكلې ده.

عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٦﴾

عالم الغيب( الله تعالى) دى، چې پخپلو غيبى چارو څوک نه خبروى.

إِلَّا مَنِ ٱرْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُۥ يَسْلُكُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ

رَصَدًا ﴿٢٧﴾

**يوازې خپل ځيني غوره کړى شوى رسولان( د معجزو د وړاندې کولو لپاره د غيبو په چارو خبروى، او د شيطانانو له شر او استراق السمع نه د مصؤن ساتلو لپاره يې ورته) شاوخوا ساتونکى پرښتې مؤظف کړى دى.**

لِّيَعۡلَمَ أَن قَدۡ أَبۡلَغُواْ رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمۡ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيۡهِمۡ وَأَحۡصَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ عَدَدَۢا ﴿٢٨﴾

**(ترڅو په علم ظهور سره) ثابته کړى چې پيغمبر انو الهى احکام( په پوره توګه) خلکو ته ابلاغ کړى دى.بيشکه چې الله تعالى د ( پرښتو او رسولانو په ټولو چارو پوره علمى) تسلط او احاطه لرى( او هيڅوک يې هم له حکم نه سرغړونه نشى کولى) او د خپل وحې کړى شوى پيغام هر ټکى هم ورته په دقيقه توګه معلوم دى( چه څوک پکې د تحريف او کمى زياتى جرأت هم نشى کولى).**

**« تمت سورة الجن بفضل الله و رحمته»**

**=======================**